دويمه کچه

# څمکه نازو باندې غږ کوي

PRATHAM BOOKS storyweaver

التعليم فوق الجميع | education above all



**لیکوال:** لابانیا گوش
**انځورګر:** ګیتاانجلي ائیر

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .


**”نازوووو!“**
ځمکه نن غوسه ده. ډېره
زياته غوسه.



نازو یو ځل بیا هماغه کار ته مخ کړې ده.
هغه په شلم ځل د خپلو کاریکاتوري
کیسو د مافوق الفطرت قهرمانانو په څېر
د الوتلو لپاره چمتووالی نیسي.

او په شلم ځل، هغه چيغه کوي،
”هيييييی!“

”د جاذبې قوې، زه تا نه کرکه
لرم!“





”افففففف! دا خو ډېره بې عداتلي ده.“ ځمکه بنګېږي.

”د جاذبې قوه یوه حیرانوونکې قوه ده. که د جاذبې قوه نه وای، هوا، نباتات، حیوانات، غرونه، سمندرونه، ستوري، کورونه، موټرونه او ښوونځي، نازو او حتی زه – له مونږ څخه به یو شی هم په هغه ځایونو کې نه وای چېرته چې مونږ یو!

خو زه ځنګه کولای شي نازو ته دا هر څه وښیم.“

ځمکه یو پلان ترتیبوي.



“”سلام، نازو. زه ځمکه یم.
دا چې ته له جاذبې ښخه کرکه لرې، ما د دې د لېرې کولو پرېکړه کړې ده. مهرباني وکړه څومره دې چې خوښه وه والوزه.



”خو پاتې دې نه وي، چې ته باید لومړی خپله څادر راونیسې!“



”وااااا...“
”نااااااااااا!“
”ااخخخخخخخخ!“
”آآآآآآآآآآاااا!“
”وواااه.....!“



”مهرباني وکړه، لطفاً، ودرېږه! ما د جاذبې قوې ته د احمقې خطاب کاوه ځکه چې ما غوښتل چې والوزم. خو اوس هر شی د الوت په حال کې دی،“ نازو وايي.

“”واااااايييييی!
ستا په ګومان د جاذبې قوه بس يوازې همدا کولای شي چې تا له الوتلو څخه ايساره کړي؟“

”ها؟ پرته له دې چې ما په ځمکه وساتي، دا نور څه کوي؟“ نازو پوښتنه کوي.



ځمکه یو اوسېلی او تشریح کوي،

“”جاذبه یو نالیدلې قوه ده چې زمونږ شاوخوا هر شی، او زما مطلب **هر شی** دی،
دې ته مجبوري چې یو بل کش یا جذب کړي. دا ټول شیانو په نظم کې ساتي.



له دې پرته، هر شی، حتی زه او ته، به په هوا کې
معلق یو او په فضا کې به غیب شو. پوووف!“



نازو د پوښتنې په کولو کې ځنډ نه کوي،
”خو دا شی چېرته کش کېږي؟ ما ته خو هیڅ نه ښکاري.“

“”افرین نازو! ښه مشاهده دې کړې.
په واقعیت کې هر شی هر وخت د یوه بل له
خوا کش کېږي. ته یې نه وینې، نه یې حس
کوې ځکه چې زه ستا ګېرچاپېره تر ټولو درونډ
شی یم. او زما کشونه تر ټولو قوي ده. نو، زه
هر شی خپل ځان ته کش کوم او له خپل
ځآن سره هر شی په ځمکه پروت ساتم.

”او زما کشونه ستا شاوخوا تر ټولو قوي ده ځکه چې زه تر بل
هر څه زیات کمیت لرم. په یاد ولره، څومره چې کمیت زیات
وي، هومره کشونه قوي وي،“ ځمکه وايي.

کمیت په یوه شي کې د مادې
یا توکي مقدار ته ویل کېږي.

”امممممم....او سپوږمۍ؟ دا هم ډېره غټه ده. او مشتري سياره؟ “ نازو پوښتنه کوي.

”آها، اوس ته رښتيا هم د پوهېدلو هڅه کوې، نازو. سپوږمۍ تر ما ډېره سپکه ده، نو دا تا دومره په قوت سره نه کش کوي څومره چې زه دې کش کوم. خو دا بيا دومره نږدې هم ده چې په سمندرونو کې اوبه کش او لوړې دنګې څپې راولاړې کړي.“





“”ته پوهیږې، څومره چې یو شی لېرې وي، هومره د کشولو قوت يې ضعیف وي.

“”اوس مشتري سیاره واخله – دا زمونږ په لمریز نظام کې تر ټولو ستره سیاره ده. دا رښتیا هم زښت ډېر زیات کمیت لري، خو دا چې دا سیاره ډېره لېرې ده، نو د سپوږمۍ په پرتله د دې د کش کولو قوه ضعیفه ده.“



کاينات تر ځمکې درانه شيانو څخه ډک دی. لکه لمر. دا ځمکه او نورې سيارې کش کوي او خپل ګېر چاپېره څرخولو ته يې اړباسي. دا کار ورځې، مياشتې، کلونه او فصلونه، د ګرمۍ رخصتۍ، او آن د زوکړې ورځو په څېر ورځې هم منځته راوړي. ګڼې سيارې او ستوري شتون لري چې له ځمکې څخه درنې دي خو هغه دومره لېرې دي چې د هغوی د کش کولو قوه زمونږ پر سياره لږه اغېزه لري.



نازو یوه شېبه غلې پاتې کېږي.
ناڅاپه، هغه خپلې مټې ټېوي، او وایي
”خو زه الوتل غواړم! الوتل،
الوتل
الوتل
لېرې الوتل غواړم“





”او خامخا به والوزې. کله چې غټه شوې، ته به د يوې الوتکې الوزول زده کړې، يا به په يوه راکټ کې د سپوږمۍ پر لور پرواز وکړې.“

دا خبره اورېدو سره نازو هيجانۍ شوه. ”هو، يوه ورځ، زه به والوزم! اوس کولای شې چې د جاذبې قوه بېرته خپل عادي حالت ته راوګرځوې؟“





”نازو! اوس دې څه شی مات کړ؟“

”مورې! دا ما نه دی کړی. دا د جاذبې قوه وه!“





”نازووووووووووو!“





ستاسې په اند په ځمکه کې به څه بدلون
رامنځته شي که سپوږمۍ په مشتري سیاره
بدله شوه؟

ځمکه ولې په لمر کې نه لوېږي؟

ستاسې په اند په ځمکه کې به څه بدلون
رامنځته شي که سپوږمۍ ۱۰ برابره لېرې
ولاړه؟

که هوا نه وای، مرغۍ الوتلای شوه؟

# لارښودونکې پوښتنې

1. کوښښ وکړئ یو څه ونیسئ، پورته یې واچوئ، او پریږدئ؟ ولې دا شی بیرته ځمکې ته راځي او پورته نه ځي؟
2. د جذب قوه څه ده او څنګه کار کوي؟
3. ولې آرو د جذب قوه نه خوښوي؟ ولې انسانان نشي کولی والوزي او مرغان کولی شي؟
4. د سمندر څپې څنګه جوړیږي؟ آیا فکر کوئ چې دغه څپې د انسانانو پر ژوند اغیز کوي؟
5. داسې فکر وکړئ چې پر ځمکه د جذب قوه نشته؟ آیا کولای شئ د یو داسې شي په اړه فکر وکړئ چې انسانان په آسانۍ سره د ځمکې پر مخ پاتې شي؟